// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعی

۰۷ جنوری ۲۰۱۲

**د بیاض د غزلی په اقتفا**

# افغان ناتار

د افـغان پـــه مېـنه گورئ څه ناتار کړ؟

په سرو،مال او ناموس يي څه بازار کړ؟

کنـډ کپـړ باغ و گلشن ته چي نظر کړم

تــه وا راغله تورکارغان په لاله زار کړ

چـــي زمـــري بـــي له هيــبته لړزېدله

نــن يـــي گـوره په حرم سپي و حِمارکړ

د چنـــگېز او د گورگين دوَر را ياد سي

چي دا وينم کُشت و خون په خپل تبارکړ

غوڅـوي يـــي د ژوند وني په څو رنگه

کــور په کور، کلي په کلي يي ښـامارکړ

د پـــردو تـــکي، بلاوي پـرې را اوري

ورور،تربور يي هم ټولی کي د اغيارکړ

هغـــه ورځ به خدايه کله را رسيږي؟

چـــي پـــه کور د رقيـــبانو دا يلغار کړ

چـــي د آه و درد لمبې يي اسمان سوځي

د هـــارون په زړگي ربه څه انگار کړ؟